ډاکتر ابراهيم شينواری ۲۰۱۰/۸/۱۰

# آيا چټکې ښاري کېدنې ته تياری لرو؟

د نړۍ نيم نفوس (3.3بليونه) وګړي اوس په ښارونو کې ژوند کوي، چې دا شمېره به په ۲۰۳۰ کال کې پينځه ميلياردو ته ورسېږي. ښار ته د سېلاب په شان د خلکو بې کنترولو راتګ په شلمه پېړۍ کې اوج ته ورسېد او له ۲۲۰ نه ۲۸۰۰ ميليونو ته لوړ شو. په ۲۰۳۰ کال کې به د پرمختيايي هېوادونو د ښارونو نفوس د ټول ښاري نفوس ۸۰٪ برخه جوړوي .

په افغانستان کې خو لا ايله ۲۰٪ خلک په ښارونو کې اوسېږي؛ خو د مهاجرتونو او بېځايه کېدنو له امله خلکو ته اوس دا زمينه پيدا شوې ده، چې ښارونو ته راشي، چې کابل او ځينې نورو ښارونو ته د ګڼو خلکو د بې پلانه راتګ مسئله دا خبره ثبوتوي .

ښار ته راتګ خلکو ته هيله او اميد ښکاري او ښار ته راتلونکي خلک دلته د ښه ژوند، کار، نېکمرغۍ او د اولادونو د زده کړې او کسب و کمال خوبونه ويني .

دا رښتيا هم ده، چې ښار ته راتګ فرصتونو او امکاناتو ته راتګ دی؛ خو که د پلان او منظمې ستراتېژۍ له مخې وي، او که نه وي؛ نو ډېرې سترې ستونزې او چيلنجونه ورسره يو ځای شته .

که څه هم دولتونه بايد د غريبو خلکو د ښاري کېدو حق پايمال نکړي او په زور او غير طبيعي ډول يې مخه ونه نيسي؛ خو د لاندې چيلنجونو بې پلانه پرېښودل د راتلونکو احتمالي فاجعو په وړاندې بې تفاوتي او حتی ګناه ده :
- د ښارونو موجوده ځمکه د نويو راتلونکو لپاره کمه او د تراکم، ازدحام او ګڼه ګوڼې سبب کېږي .
- د بې کورۍ ستونزه، چې د ښارونو يوه مزمنه ستونزه ده، له کليو څخه د نوو خلکو د بې کنټروله راتګ له امله لا تشديدېږي .
- کار او اشتغال هغه مسئله ده، چې هم د ښار موجود خلک او هم نوي راغلي خلک به ورپسې لالهانده ګرځي .
- په مزدحمو، متراکمو او له ګڼې ګوڼې څه ډکو ښارونو کې ناروغتياوې او بدمرغۍ زياتېږي .
- تنګ ښارونه او ګڼ نفوس د بې نقشې او بې پلانه ابادېو سبب کېږي، چې لا ډېرو ستونزو ته لار اواروي .له خيرخانې کوتل نه نيولې تر خواجه رواش او له کمپنۍ نيولې تر سيد نورمحمد شاه مېنې د کابل ښار په سمو اوغرونو کې د بې نقشې کورونو جوړېدل دغسې يوه بده بېلګه ده، چې ۸۰٪ کابل ښار يې په بې نقشې ودانيو ډک کړی دی .
- د چاپېريال د چټلی او د هوا د ککړتيا سبب کېږي، چې د ناروغيو او ستونزو له زياتوالي سره مرسته کوي .
- ټولو زړو او نويو ښاريانو ته د باکيفيته او ښو پوهنو او مهارتونو زده کول يو له امکانه وتلی کار ګرځي .
- د ښځو او نرو په ټولنيزو اړيکيو کې چټک بدلون هم د ټولنيزو بحرانونو او ټکرونو زمينه جوړولای شي .
- د وزګارتيا، غريبی او ناروغی له امله په اخلاقو او کلتور کې هم بحران او د معنويت سقوط منځته راځي او په ټولنه کې فقر، بېوزلي او نېستمني لا زياتېږي او د هيلو او اميدونو په ډېوو پسې راغلي خلک د نهيلي او مايوسی له تيارو سره مخ کېږي .

افغانستان په ځانګړي ډول داسې هېواد دی، چې د وګړو ۶۸٪ يې ځوانان دي او ښارونه به يې هم د ځوانو وګړيو ځوان ښارونه وي . دا چې د ځوانانو د کار، پوهنې، روغتيا، ټولنيزو اړيکيو، سلوک او روزنې مسايل ځانګړې توجه او پاملرنه غواړي؛ ددې لپاره زموږ مسوولیتونه لا پراخوي .

په افغانستان کې د چټکې ښارې کيدنې د بديل په توګه د کوچنيو ښارګوټو جوړول ډېر ګټور او ضروري دي چې عملي هم دي او د تمدن او ثبات پر لور د ملت د تللو سره مرسته کوي . په دغو وړو ښارګوټو کې اوسېدونکي به له يوې خوا اساسي خدمتونو ته په اسانۍ لاسرسی ولري، له بلې خوا به يې له خپلو کليوالو خپلوانو سره راشه درشه او اړيکې دوام وکړي، چې د دوی د اولادونو د تعليم يافته کېدو په صورت کې به کليوال هم وهڅېږي چې په ښارګوټو کې له خپلو خپلوانو سره په دې برخه کې مثبته سيالي وکړي .همدا راز دا به د کليو د توليداتو لپاره د لنډو بازارونو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي . د ښارګوټو اوسيدونکو ته به معلومات او خبرتياوې هم په اسانۍ رسيږي . په دې توګه به د هيواد دايمي ثبات سره مرسته وشي .

څومره چې فکر کېږي؛ افغانستان نه دې مسئلې ته په جدي نظر کتلي، نه يې ورته تياری نيولی او په داسې بې پلانۍ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

کي نه د دغو چیلنجونو د مقابلې توان لري .

په نورو هېوادونو کي دولتونه د ښاریتوب پروګرامونه د بېوزلې پای ته رسولو لپاره عملي کېږي او د ښارونو د منظمو پراخولو لپاره منظمې پالیسی جوړ وي؛ خو زموږ د ښارونو پراختیا په داسې ډول روانه ده، چې د کابل ښکلی ښار اوس د ٪۸۰ بې نقشې ودانیو او د نفوس د انفجاري زیاتوالي له امله د نړۍ کثیف ترین ښار شو، او متاسفانه د ښارونو چټلې يوه داسې لویه ستونزه ده چې د بشریت د راتلونکو تر ټول سترو ستونزو څخه به وي .

د راتلونکو فاجعو مخنیوی په هغو پالیسیو، ستراتېژیو او تصامیمو پورې اړه لري، چې اوس باید ونیول شي .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ